پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۴/۱۳

# بایزید اڅک
## یو رېښتینی ښوونکی

زه استاد بایزید اڅک د افغانستان
په ښوونیز، روزنیز او پوهنیز نظام کې
د پوهې، اخلاقو او حوصلې یوه ډېره غوره بېلګه ګڼم.

یو وار د ماسکو د خوارۍ، بې اسنادۍ، بې وطنۍ او پنډیتوب په دوره کې د روهي صاحب د مرګ خبر په اورېدو سره داسې په مځکه ولګېدم لکه خپل پلار مې چې مړ وي ، ګونګ او لال شوم او اوس دا دی د استاد بایزید اڅک د مرګ خبر بیا هماغه کانه را باندې وکړه، هک پَک یې کړم او ...
پر استاد اڅک دې خدای و رحمیږي، لومړی زما استاد و او بیا سره همکاران شولو. زه د لیسانس دورې د زدکړو په موده کې(۱۳۵۵ ـ ۱۳۵۸) په حضوري ډول د استاد بایزید اڅک د شاګردۍ وياړ لرم، ما ډېر څه ور نه زده کړي دي، ځکه پر ما ډېر حق لري. زه د ده د کړو وړو او علمي شخصیت ته په کتو سره، په جُرأت ویلی شم چې:
زه استاد بایزید اڅک د افغانستان په ښوونیز، روزنیز او پوهنیز نظام کې د پوهې، اخلاقو او حوصلې یوه ډېره غوره بېلګه ګڼم.
ما سره د استاد بایزید اڅک خاطرې ډېرې دي، خو د مرګ خبر یې داسې ګونګ او لال کړم چې ...
استاد اڅک پورې اړوند، د محصلۍ او بیا د استادۍ دورې خاطرې څومره چې زما په یاد دي، په هغو کې زه یوه داسې خاطره په یاد نه لرم چې استاد اڅک دې ما ته یا بل چا ته یوه بده خبره هم کړې وي. داسې چلن یې کاوه چې هر چا به ګڼله چې دی یې له پخوا پیژني یا یې د کورنۍ غړی دی او یا یې له ډېر پخوا ملګری دی.
استاد اڅک د لوړو زدکړو یوه دوره د ناروې په اوسلو کې تېره کړې وه، زه د ۲۰۰۷ کال په اګست کې کابل ته تللی وم، له ده سره کله چې مخ شوم له روغبړ وروسته یې له هر څه مخکې و پوښتلم چې ته خو ډنمارک کې اوسې، ناروې ته نږدې یې، کله اوسلو ته ورغلی یې که نه، ما ویل هو ورغلی یم.
لاندې د مځکې خوا ته یې وکتل، خوله یې له خندا ډکه وه، خو له شونډو او مخ یې د افسوس نښې توېدلې او له خولې نه یې داسې توري را و وتل:
«ناروې او اوسلو سره مې یو شمیر تودې سړې او خوږې ترخې خاطرې غوټه دي، ځکه مې در یاده کړه.»
د محصلۍ، ځوانۍ او شوخۍ په دوره کې چې استاد اڅک به ټولګي کې را ته ولاړ و، په پراخې حوصلې او علمي ذخیرې یې درس را کاوه، هغه وخت یې ما ته یې دومره ارزښت نه مالومیده، خو کله چې زه خپله د همدې پوهنځي او همدې څانګې تدریسي غړی شوم؛ په هماغې څانګې کې او هماغه ټولګي کې او له هماغې توري تختې سره د محصلینو مخ کې د اڅک په ځای زه ودریدم، بیا نو پوه شوم چې د تدریس، استادۍ او یوه ځوان ټولي په مخ کې دریدل څومره درونه، ستونزمن او له مسؤلیت نه ډک کار دی او استاد بایزید اڅک دا کار په ډېر بریالیتوب سره ځکه کاوه چې پراخه حوصله او د علم خزانه ور سره وه.
استاد بایزید اڅک هم تدریس کړی او هم اداره، البته اداري چارې یې هم په علمي چاپېریال کې تر سره کړې دي. ده یو وخت د پښتو څانګې د آمر په توګه هم دنده تر سره کړې چې هغه هم ډېره سلنه علمي بڼه درلوده او لږه سلنه یې اداري چارې وې. استاد اڅک په علمي او اداري چارو کې تل هڅه کوله چې هر څه د ښیګڼې پر لورې برابرکړل شي. کش کړپ، تاو تریخوالی او قهر یې اصلاً نه په فکر کې وو او نه هم په عمل کې. هر کله یې خوله له خندا ډکه وه. د ده چلن که له استادانو سره و، که له شاګردانو سره او یا کوم اداري پرسونل سره، تل له درناوي سره مل چلن و او مقابل لوري هیڅ کله د پردیتوب احساس نه کاوه.
د شپیتمې لسیزې څلورم که پنځم کال و چې یوه ورځ زما د ناستې خونې ته را ننوت، زه لګیا وم د پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح ځانځانې ښامار مې لوست، کتاب مې چپه د میز پر مخ کېښود، د درناوي په دود ور ته ودریدم، له چای سره وچه میوه مخکې ور ته کېښوده، وې پوښتلم:
په څه لګیا یې؟ څه شی لولې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ما په شاګردانه او عاجزانه ډول ور ته و ویل:
د مجروح صاحب ځانځاني ښامار دی. ده را غبرګه کړه:
دغه مخ چې تا لوسته، یو ځو کرښې یې را ته واوروه!
اوس د هغه مخ یوازې عنوان زما په یاد دی:
«هغه ښار چې ټول ښاریان یې رنځوران وو»
خو اوس هم ځانځاني ښامار لکه تل زما د کار پر میز ایښی دی، هماغه مخ چې استاد ته مې اورولی و، دلته یې را نقلوم:«

هغه ښار چې ټول ښاریان یې رنځوران وو

لاروی د نیمو شپو وم
هلته ناست د سمڅې خولې ته
هک حیران وم
نږدې هلته
ښکاریده ړنګ دیوالونه
کنډوالې وې د کوم زوړ لرغوي ښار ادا
رواقونه زوړند ـ زوړند، مرمري ستنې ولاړې ځینې ملاستې
داسې فکر مې کولو:
آخر څوک به را پیدا شي
زماني به ور یادیږي تیرې تیرې
د دې ورکې آبادۍ
خبر به واخلي
د دې ښار تیر شوی ژوند به را بیان کړي
را ته وبه کړي کیسې زړې زړې هم»

ده په یوه ځانګړي خوږ زما د لوستلو لړۍ را غوڅه کړه او وې ویل:
ځانځاني او خودي خو په هر چا کې شته او «ایګو» خان نن سبا د هر چا پر اوږو سپور دی، ته یې د فلسفي او محتوا په باب فکر وکړه، خو زه د مجروح ژبني اړخ حیران کړی یمه، دومره یې روان او د ګرامر پر اصولو سم لیکلی دی چې ...
د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې همدا شپې ورځې په کابل کې وم. یوه ورځ مې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې استادانو صابر خویشکي، بریالي باجوړي او بخت میر وزیري سره تیر هیر خاطرات یادول، ما درې واړه مخاطب کړل او د استاد اڅک پوښتنه مې ځینې وکړه. بخت میر وزیري را ته و ویل چې:
پرون یې موږ ټول پوښتنې ته ورغلي وو، او ...
زه بیا یوازې د بل چا په مرسته کور ته ورغلم او لږه شیبه ور سره کیناستم، خو آ پخوانۍ مزه یې نه وه، د ژوند د ترازو پلې یې هسکې ټیټې وې، د امید خوا یې سپکه او د نا امیدۍ دا یې درنه را ته ښکاره شوه، په خواشینۍ ور نه را و وتم، دا مو وروستی دیدن و.
او دا دی استاد بایزید اڅک د رنځورو ښاریانو په ښار کې پاتې شو، ژوند یې په کې تیر کړ د هماغو ړنګو دیوالونو رنځ پسې رنځورکړ او دا دی د هماغو ړنګو دیوالونو غمجنو رنځونو سترګې هم ور پټې کړې.

«خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خــلـک
هـیڅ خـندا مې له دې خلکو سره نـه شي
ژړوي مـې هـغـه تـلـلي تـلـلي خـلـک»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ